# بسم الله الرحمن الرحيم

## پیغمبر صل الله علیه وسلم پخپل ژوند او کور کې زمونږ لپاره یو ښه پیشوا دی

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چي د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی هغه پخپل کتاب کې فرمایلي: « لَقَدْ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مِّنْ أَنفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُم بِالْمُؤْمِنِينَ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ » ژباړه:« وګورئ! تاسي ته یو پیغمبر راغلی دی چي په خپله له همدا تاسي څخه دی. ستاسي په زیان کښي لوېدل پر هغه ګران تماميږي. هغه ستاسي د رغېدني حِرصناك دی، د مؤمنانو لپاره هغه خواخوږی او زړه سواند دی» او زه ګواهي ورکوم چي نشته لایق د عبادت مګر یو الله دی چي هيڅ شریک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قیامت تر ورځي پوري په نیکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

یقینا الله جل جلاله محمد صل الله علیه وسلم په ټولو مخلوقاتو کې د پیغمبرپه توګه غوره کړ د هغه سینه یې پرانستله او د هغه مرتبه یې لوړه کړه اود هغه یادونه یې په قرآن کې وکړه او د شریعت بشپړ صفات یې هغه ته ورکړل پیغمبر صل الله علیه وسلم په اخلاقو کې بشپړ اخلاق درلودل اوپاک نفسه وو او زړه یې پاک وو فکر یې لوړ وو ښه چال چلند یې د خلکو سره کولو الله جل جلاله فرمایی:« وَإِنَّكَ لَعَلَى خُلُقٍ عَظِيمٍ» ژباړه:« او بېشکه ته د لوړو اخلاقو مرتبه لرې».

نبي کریم صل الله علیه وسلم په ژوند کې که څوک فکر وکړي نو وبه ګوري چې هغه په ریښتیا سره د بشریت لپآره یو ښه پیشوا وو الله جل جلاله د هغه په هکله فرمایي:« لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِمَنْ كَانَ يَرْجُو اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيرًا» ژباړه:« په یقیني توګه، ستاسي لپاره د الله په پیغمبر کي د نېکۍ یوه خورا غوره نمونه ده، د هر هغه چا لپاره ده چي د الله او د اخرت د ورځي هېله من وي او الله ډېر ډېر یاد کړي.»، نو ته ګوری چې پیغمبر صل الله علیه وسلم یو ښه خاوند یو ښه پلار یو ښه نیکه وو په ځانګړي توګه پیغمبر صل الله علیه وسلم فرمایلي دي په تاسو کې غوره ترټولو هغه څوک دی چې د خپلي کورني لپآره غوره وي او زه د خپلي کورني لپآره غوره یم.

راځي چې مونږ او تاسی د پیغمبر صل الله علیه وسلم په هکله چې پخپل کور کې څنګه اخلاق ترسره کول په هغه رڼا واچوو هغه د خپلي کورني سره ډیر ښه چال چلند کولو هغه د حضرت خدیجي رضی الله تعالی عنها سره چې د هغه لومړنۍ میرمن وه د هغه په هکله یی بیلابیل احادیث راغلي دي او د هغه په هکله فرمایلي دي چې صله رحمي به یی کوله او د میلمنو عزت به یی کولو همدارنګه پیغمبر صل الله علیه وسلم د حضرت خدیجي رضي الله تعالی عنها د وفات څخه وروسته هم د هغه یادونه کوله ځکه کله چې یوه بوډي پیغمبر صل الله علیه وسلم کور ته راغله تو هغه ورته ودریدو او د هغه عزت یی وکړو نو کله چې حضرت عایشه رضي الله تعالی عنها د هغه د عزت په هکله پوښتنه وکړه نو پیغمبر صل الله علیه وسلم ورته وفرمایل چې د حضرت خدیجي رضي الله تعالی عنها په زمانه کې دا

مونږ ته راتلله او په وعده باندي وفا کول د ایمان یوه برخه ده پیغمبر صل الله علیه وسلم همدارنګه د حضرت خدیجي رضی الله عنها په هکله فرمایلي دي چي هغه په ما باندي پداسی وخت کې ایمان راوړو چې ټولو خلکو له ما څخه انکار کولو او همدارنګه زما د خبرو هغه وخت یی تصدیق وکړ چي خلکو نه منله او خپلي پیسي په هغه وخت کي راکړي چې خلک له ما څخه تلل او الله جل جلاله هغه نه ماته زوي راکړ.

همدارنګه پیغمبر صل الله علیه وسلم د خپلي کورنی سره به مرسته کوله اود هغه اړتیا به یی پوره کول حضرت عایشه رضي الله تعالی عنها فرمایي چي پیغمبر صل الله علیه وسلم به خپل کالي پخپله ګنډل او خپل پڼي به یی پاکولي او هغه کارونه یی ترسره کول چې سړیان یی په کورونو کي کوي کله چي حضرت عایشه رضي الله عنها څخه پوښتنه وشوه چي پیمغبر صل الله علیه وسلم پخپل کور کي څه کول نو هغه ورته وفرمایل چې د خپلي کورنی سره همکاري کوله خو کله به چې د لمانځه وخت راغي اودس به یی کولو او لمانځه ته به تلو همدارنګه پیغمبر صل الله علیه وسلم همیشه هڅه کوله چي خپلي کورني ته خوښي وبخي او هغوي ته به یی وخت ورکولو او کله به چې پیغمبر صل الله علیه وسلم کور ته لاړو نو د حضرت عایشه رضی الله عنها سره به یی خبری کولو او د هغه سره به یی ټګ کولو.

همدارنګه پیغمبر صل الله علیه وسلم د خپلو لورګانو سره هم ډیره نیکي اود هغوي عزت به یی کولو پیغمبر صل الله علیه وسلم د حضرت فاطمه رضي الله تعالی عنها ډیر درنښت کولو کله چي پیغمبر صل الله علیه وسلم به ناست وو او هغه پري داخله شوه نو هغه به ودریدو او هغه به یی ښکلوله او هغه به یی له ځان سره په مجلس کي کینوله حضرت عایشي رضی الله عنها فرمایلي دي چي پیغمبر صل الله علیه وسلم د خپلو بی بیانو سره ناست وو چي فاطمه راغله نو هغه یی ښکل کړه او هغه ته یی ښه راغلاست وویلي او بیا یی پخوا کي کینوله.

*****

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چي د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، او زه ګواهي ورکوم چي نشته لایق د عبادت مګر یو الله دی چي هیڅ شریک نلری، او زه ګواهي ورکوم چي زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چي د قیامت تر ورځي پوري په نیکی سره د هغه تابعداري کوي.

پیغمبر صل الله علیه وسلم یو ښه نیکه هم وو او د خپلو لمسیانو ډیر عزت او د هغوي سره به یی ترحم کولو او شفقت به یی کولو نو ددی جملي څخه یو داسی روایت کړي شویدی چي پیغمبر صل الله علیه وسلم په منبر باندي ولاړ وو او خطبه یی ویله نو حسن او حسین رضي الله عنهما مخي ته راغلل سره کمیسونه یی اچولي وو ودریدل او کیناستل نو پیغمبر صل الله علیه وسلم د منبر څخه راخکته شو او دواړه یی په غیګ کي ونیول او منبر ته یی وخیجول پیغمبر صل الله علیه وسلم یو ورځ ولیدل چي حسین رضي الله عنه د ماشومانوسره په لاره کي لوبي کولو نو پیغمبر صل الله علیه وسلم چي کله لاس ور اوږد کړ نو حسین رضي الله عنه ورڅخه دیخوا هخوا منډی وهلي نو وپیغمبر صل الله علیه وسلم خندل او د هغه لاس یی

ونیولو او ښکل یی کړ او بیا یی وفرمایل چې حسین له ما څخه دی او زه د حسین څخه الله به د هغه چا سره محبت کوي چې هغه زما د حسین سره مینه وکړي.

پیغمبر صل الله علیه وسلم یو ورځ لمانځه ته وخکي وو او خلکو ته یی لمونځ ورکولو چې د هغه لمسی سید عمامه رضي الله عنها راغله نو هغه یی په غیګ کې ونیوله کله به چې سجدی ته تلو نو هغه به یی کینوله او همدارنګه پیغمبر صل الله علیه وسلم د خپلو نورو لمسیانو زینب او د نورو سره به یی هم شفقت کولو.

مونږ ټول دیته اړتیا لرو چې د پیغمبر صل الله علیه وسلم پسی اقتداء وکړو او د ژوند په ټولو چارو کې هغه پیشوا وګڼو پیغمبر صل الله علیه وسلم په خلکو کې ډیر رحم دله وو او بشپړ اخلاق یی درلودل او ډیر د خلکو به یی درناوی کولو او همدارنګه په خلکو کې ډیر زیات ریښتیاویونکې عادل او شجاع وو همدي لپاره الله جل جلاله پیغمبر صل الله علیه وسلم پسي د اقتداء په هکله قرآنکریم کې فرمایلي دي :« قُلْ إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللَّهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ» ژباړه:« ای پیغمبره (ص)!] خلکو ته ووایه: " که تاسي په ربښتیا له الله سره مینه لرئ، نو زما د پیروی لاره غوره کړئ؛ الله به ستاسي سره مینه وکړي او ستاسي خطاوي به در وبښي. هغه ډېر ښه ببښونکی او د رحمت څښتن دی.».

**الله د مونږ ته خپل نبي محمد صل الله علیه وسلم پسي اقتداء کولو توفیق راکړي.**